حبيب وقار

نيټه د ۱۳۸۸ لمريز كال د ميزان ۲۷ مه

# د پوځي اډو پر ځای د افغانانو اقتصادي حالت ته پام وکړئ

آيا امريكا غواړي چې د كلونو لپاره په افغانستان كې پاتې شي، دوی ولې په خپلو پوځي اډو بې كچې ډېر لګښتونه كوي؟ دوی په افغانستان كې په خپلو پوځي اډو په داسې حال كې بې كچې ډېر لګښتونه كوي چې په خپل شعار كې همېشه وايي چې موږ په افغانستان كې د ډېر وخت لپاره نه پاتې كېږو او د دوی په وينا هغه وخت چې په دې هېواد كې امنيت تامين شي دوی به له هېواد څخه خپل ځواكونه وباسي. خو دا چې واشنګټن پوسټ امريكايي ورځپاڼه په افغانستان كې د امريكايانو پر پوځي اډو د بې كچې او ميلياردونو ډالرو د لګښت خبر وركوي، دا اوس ټولو هېوادوالو ته پوښتنه پيداكوي چې آيا امريكا په ريښتيا هم د وېره اچوونكو د مخنيوي او په هېواد كې د امنيت د رامنځ ته كولو او القاعدې ډلې د له منځه وړلو لپاره راغلي او وورسته به ببېرته ځي او كه دوی هوډ لري چې د ډېرو كلونو لپاره په هېواد كې پاتې شي، خو لكه څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده د دوی له راتلو سره امنيت جوړ نه شو بلكې لا پسې خراب شو، موږ د طالبانو له ماتې وروسته امنيت او اوسنۍ امنيت هېڅ نه شو سره پرتله كولای، ځكه چې هغه وخت يو چا كولای شول چې د هېواد په ډېرو سيمو كې تګ راتګ وكړي خو اوس هر هغه څوك چې دولتي دنده او يا هم په كومه غيردولتي اداره كې كار كوي نه شي كولای چې په ډاډه زړه د هېواد په ډېرو سيمو كې تګ راتګ وكړي، له بلې خوا موږ اوس وينو چې په هېواد كې القاعده ډله شتون نه لري كه د طالبانو ډله ده هغوی د القاعدې اړونده ډله نه ده. نو چې داسې ده بيا په هېواد كې د غښتلو پوځي اډو جوړښت د څه لپاره؟

امريكايي ورځپاڼې واشنګټن پوسټ په خپله تازه ګڼه كې راپور وركړی دی، چې امريكايي پوځيان په افغانستان كې ميلياردونه ډالر لګوي او د سرتېرو لپاره يو شمېر پوځي ځايونه جوړوي.
د ورځپاڼې په وينا دا كارونه په دوه زره لسم كال او له هغه وروسته د امريكا د سرتېرو د تسهيلاتو لپاره كېږي.
واشنګټن پوسټ څرګندوي چې تر اوسه په دغو پروژو امريكا دوه اعشاريه اووه ميلیارده ډالر له تېرو دريو كلونو راهيسې لګولي دي او كه چېرته كانګرېس موافقه وكړي يو اعشاريه درې ميلیارده نور ډالر به په افغانستان كې په ځلوېښتو ځايونو كې ولګوي.



د بګرام په هوايي ډګر كې د مساپرو د لېږد لپاره امريكا دېرش ميليونه ډالر بېل كړي دي.
په بګرام كې به د دې پروژې تر څنګ پر يو لړ نورو پروژو هم د دوه زره يولسم كال تر لومړيو پورې ښايي كار دوام وكړي.
امريكا همدا راز غواړي چې د افغان پوځيانو لپاره ځايونه جوړ كړي په دې لړ كې يې د افغانستان په لويديځ كې د ايران پولې ته نژدې د اته شپېته ميليونه ډالرو په لګښت د افغانستان د يوې پوځي فرقې لپاره تاسيسات جوړ كړي دي.
خو امريكا بايد دا هم درك كړي چې افغانان يوازې پوځي مورچو او پوځي اډو ته اړتيا نه لري، د افغانانو اقتصادي حالت بې كچې كمزوری دی، فقر او بې كاري په هېواد په پوره توګه حاكمه ده. كه چېرې امريكا په ريښتيا هم د مرستې او همكارۍ لپاره راغلې وي نو د پوځي اډو پر ځای دې د افغانانو اقتصادي حالت ته هم پام وكړي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ